


appro
FRIEDRICH EBERT STIFTUNG
Mediothek Afghanistan


# د افغانستان په شمال کې د جګړې او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزي غونډې موندنې




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین او سعید پرتو، له خوا د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکارۍ د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د اپریل په پنځمه نېټه په بلخ ولایت (مزار شریف ښار) کې د سولې اړوند یوه محلي غونډه جوړه شوه چې په کې د افغانستان له پنځو شمالي ولایتونو: بلخ، سمنګان، سرپل، جوزجان او فاریاب څخه ګډونوال راټول شوي وو.

## شالید

د دغو ولایتونو ترمنځ قومي ـ ژبنی ترکیب توپیر لري. په سمنګان، بلخ او سرپل ولایتونو کې اکثریت دری ژبي اوسي حال دا چې پښتو، ترکمن او ازبک ژبي ټولنې په بلخ ولایت کې په نسبي ډول ډېرشتون لري. سرپل او سمنګان ازبکي ژبي اوسېدونکي لري او پښتو ژبي په اقلیت کې دي. په جوزجان کې بیا ترکمني او ازبکي د دوې اصلي او ګڼ ویونکي ژبې دي. په فاریاب کې، ازبکي د خلکو اصلي ژبه ده او دری په کې دویم ځای لري (UNFPA, 2005)

**۱ شکل: د نفوس اټکل (2020)**

| ولایت | ټول نفوس | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| **بلخ** | ۱,۵۰۹,۱۸۳ | ۵۸٤,۸۸٦ | ۹۲٤,۲۹۷ |
| **فاریاب** | ۱,۱۰۹,۲۲۳ | ۱۳۹,۷۵٤ | ۹٦۹,٤٦۹ |
| **سمنګان** | ٤۳۰,٤۸۹ | ۳۳,۹۰٦ | ۳۹٦,۵۸۳ |
| **سرپل** | ٦۲۱,۰۰۲ | ٤۹,۹۷٦ | ۵۷۱,۰۲٦ |
| **جوزجان** | ٦۰۲,۰۸۲ | ۱۳۲,۲۵۹ | ٤٦۹,۲۵۷ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

بلخ ولایت چې سیمه ییز تجارتي مرکز او د مزارشریف ښار په کې پروت دی، د ښاري اوسېدونکو او ارتباطي امکاناتو تر ټولو ګڼ مېشت ولایت دی. پاتې څلور ولایتونه تر ډېره کلیوالي دي او اکثریت اوسېدونکي یې د کرنې له لارې ژوند تېروي (۱ او ۲ شکلونه وګورئ). د ۲۰۱۸/۲۰۱۹ کال سیلابونو او وچکالۍ، د کلیوالو کورنیو پر ژوند ناوړه اغېزې کړې؛ داسې چې دوی لا په ۲۰۲۱ کال کې هم د هغه له ناوړه پایلو سره لاس او ګرېوان دي (IFRC, June 12, 2020; IFRC, March 19, 2021).

**۲ شکل: په هر ولایت کې د ښاري او کلیوالي وګړو تناسب**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

د احصائیې او معلوماتو ملي اداري د معلوماتو په بنسټ (۲۰۲۱) تر ۲۰۱۹ کاله، بلخ او سمنګان ولایتونه د جوزجان، فاریاب او سرپل په پرتله چې په کې په ۲۰۱۴ کال د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د مخالفو وسله والو ډلو شتون او فعالیت ډېر شوی، نسبي ثبات درلود. په عمومي توګه، د سرچینو کمښت، د وزګارتیا لوړه کچه، د دولت لږ او نا اغېزناک خدمتونه او د نا امنیو پراختیا سبب شوي چې په درېیو وروستیو ولایتونو کې د سرچینو په سر سیمه ییزي شخړې زور واخلي. په دغو شخړو کې د ځمکو، دولتي پستونو او مالیو د تحمیل حق پر سر شخړې شاملې دي. نا امني او تاوتریخوالی د داسې وضعیت سبب شوي چې «بې نظمي» (anomie) ورته وایي (Mielke and Miszad, 2017).

په ۲۰۲۰ کال کې، د جوزجان ولایت ۴۲ سلنه اوسېدونکي بېځایه شوي یا راستانه شوي و؛ دغه کچه په سرپل، فاریاب او بلخ کې نیږدې ۲۵ سلنه او په سمنګان کې ۱۵ سلنه ده (IOM, 2021a, 2021b, 2021c, 2021d, 2021e).

جوزجان او سمنګان هغه دوه ولایتونه دي چې د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کالو ترمنځ په کې د کوکنارو کښت او تولید لوړ حد ته رسېدلی او په ترتیب سره تر ۲۹۴ او ۲۲۳ سلنو زیات شوی (UNODC, 2021).

**بلخ** ولایت چې له تاریخي پلوه د خراسان یوه لویه برخه وه، د لرغوني تاریخ لرونکی فرهنګي او سوداګریو مرکز دی. دغه ولایت په بلخاب دره کې له ازبکستان سره پر پوله د آمو سیند پر غاړه یو ستراتیژیک موقعیت لري.

هغه حلقوي سړک چې په ټول ولایت کې غځېدلی، مزارشریف له لوېدیځ پلوه په هرات، له سوېل ختیځ پلوه په بامیان او کابل پورې تړي. له حلقوي سړک جلا شوې لویې لارې دغه ښار له ختیځ پلوه په کندز او له شمال پلوه په حیرتانو بندر (چې له منځنۍ آسیا سره د افغانستان له دوو اصلي لارو یوه ده) پورې تړي.[1] د بلخ لوېدیځ ته جوزجان او سرپل، سوېل ختیځ ته سمنګان او ختیځ ته کندز ولایتونه پراته دي.

په ۲۰۰۱ کال کې د رژیم له بدلېدلو وروسته، مزارشریف له غوره اقتصادي وضعیت څخه ګټه پورته کړه او دلیل یې د بلخ موقعیت، نسبتاً ښه امنیت او د سړکونو ښه زېربنا ګڼل شوی دی (Fishstein et al., 2013). خو د ولایت اقتصاد تر ډېره حده په خصوصي ودانیز سکټور تکیه لرله چې په خپل وار د غیر رسمي توب، فساد او ځمکو د غصب په څېر ستونزو سره مخ دی. داسې ثبوتونه هم شته چې څرګندوي اقتصادي شاخصونه په ۲۰۱۴ کال د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د بې ثباتۍ تر اغېز لاندې راغلي دي (هماغه سرچینه).

مزارشریف د افغانستان څلورم لوی ښار دی چې په کې د نورو څلورو ولایتونو په پرتله ډېر شمېر ښاري نفوس (۳۹ سلنه) ژوند کوي.

ګاونډ ولایتونو ته له کلیوالي ولسوالیو څخه د عادي کارګرانو ورتګ (له کلیو څخه ښار ته)، د ښار مېشتېدنې له ودې سره مرسته کړې. د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمایي کې هم بلخ د کورنیو بېځایه شویو له پلوه پنځم ستر ولایت و؛ داسې چې د هرو ۶ کسانو له ډلې یو تن د ۲۰۱۲ او ۲۰۲۰ کالو ترمنځ بېځایه شوي. د ولایت د مرکز په دوو ګاونډ ولسوالیو کې، د کورنیو بېځایه شویو نسبت د ۲۰۲۰ په لومړۍ نیمایي کې په ترتیب سره ۴۶ سلنه په نهرشاهي او ۵۸ سلنه په دهدادي کې اټکل شوی.

بلخ چې د افغانستان یو له ثبات لرونکو ولایتونو ګڼل کېږي، له ۲۰۰۹ کال راهیسې په لرې پرتو ولسوالیو کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو او له ۲۰۱۸ کال راهیسې د جنایي فعالیتونو او طالبانو د بریدونو زیاتېدو کوربه و او لامل یې د پخواني د ځواکمن سیمه ایز والي عطامحمد نور اجباري استعفا ګڼل شوی. په ۲۰۲۰ کال او د ۲۰۲۱ کال په پیل کې، بلخ د هېواد له څلورو فعالو جنګي ساحو ګڼل کېږي. (UNSG, December 9, 2020; UNSG, March 12, 2021) د دولتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ درنو جګړو اټکلاً ۹۶ او ۶۵ سلنه خلک په ترتیب سره په زارع او کشنده ولسوالیو کې بېځایه کړي (IOM, 2021a; UN-OCHA, March 4, 2020).

---

۱- بله لار شېرخان بندر دی چې په کندز ولایت کې له تاجیکستان سره پر ګډه پوله ځای لري.

همدارنګه بلخ په ۲۰۲۰ کال له کابل وروسته د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړه کچه لرله (UNAMA, 2021). د ۲۰۲۱ کال تر جون میاشتې پورې، د دې ولایت لږترلږه ۸ ولسوالۍ له جګړو او یوه ولسوالۍ (دولت آباد) د طالبانو تر ولکې لاندې وه ( Roggio 2021).

**جوزجان** د بلخ ولایت په ختیځ کې د آمو سیند پر غاړه پروت دی؛ له شمال پلوه په ترکمنستان، له ختیځ پلوه په فاریاب او له سوېل پلوه په سرپل ولایت پورې تړلی. جوزجان تر ډېره یو کلیوالي ولایت دی چې په اټکلي توګه یې ۸۰ سلنه وګړي د کرنې له لارې ژوند تېروي. دغه ولایت د طبیعي ګازو او اومو نفتو بډایه سرچینې لري (Pajhwok 2019 ).

په دې ولایت کې د وسله والو فعالیتونه په ۲۰۱۲ کال دولتي ځواکونو ته د امنیتي مسؤلیتونو له سپارلو وروسته، ډېر شوي دي (Habib et al., n.d.). طالبانو په دې ولایت کې خپل شتون ټینګ کړی او په پرله پسې توګه د ازبکستان له اسلامي نهضت (IMU) سره یوځای شوي. په دې ولایت کې د خراسان ولایت د اسلامي دولت د شتون یا فعالیتونه لا نه دي تایید شوي.

د ولسمشر پخواني مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم د کسانو په ګډون د ځایي زورواکانو د ملېشو او غیر قانوني وسله والو جنایي فعالیتونه د جګړو او شخړو د لا پیچلتیا سبب شوي. په ۲۰۱۷ کال په دې ولایت کې د دولت ضد وسله والو شمېر د افغانستان له ملي دولتي ځواکونو زیات شوی و (Mielke and Miszak, 2017).

د Long War Journal مجلې د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ کال تر جون میاشتې پورې، په پنځو ولسوالیو کې جګړو او شخړو شتون درلود او له ترکمنستان سره په پوله پرته ولسوالي د طالبانو په ولکه کې وه (Roggio, 2021) .

**سرپل** له لوېدیځ پلوه له فاریاب، له شمال لوېدیځ پلوه په جوزجان، له شمال ختیځ پلوه په بلخ، له ختیځ پلوه په سمنګان او له سوېل پلوه غور ولایت سره ګډه پوله لري. دغه ولایت ډېر کانونه او د نفتو سرچینې لري خو د ایستلو ځایونه د طالبانو تر بریدونو لاندې دي (Tolone-ws, January 3, 2019).

په دې ولایت کې د جګړو بېلګې د جوزجان په شان دي: د زورواکانو ترمنځ د کمیابه سرچینو په سر سیالي او جګړې، د دولت ضد افکارو او اتحادونو جوړېدل د جګړې شدیداً پېچلي لاملونه دي. د ۲۰۲۱ کال په جون کې، هېڅ یوه ولسوالي هم په بشپړه توګه د دولت تر کنټرول لاندې نه ګڼل کېده او څلور ولسوالۍ د طالبانو تر کنټرول لاندې وې (Roggio 2021).

**فاریاب** له ختیځه په جوزجان او سرپل، له سوېله په غور، له سوېل لوېدیځه په بادغیس، له شمال او شمال ختیځه په ترکمنستان پورې تړلی دی. د دې ولایت د نیږدې ۸۷ سلنه کلیوالي وګړو د ژوند اصلي سرچینه کرنه او مالداري ده.

دېته په کتو چې فاریاب د افغانستان له ختیځ سره د لوېدیځ د نښلولو په اصلي لاره کې پروت دی، ستراتیژیک اهمیت لري. دغه ولایت د طالبانو او دولت ترمنځ د شدیدو جګړو کوربه و او هم په کې ګڼ شمېر دولت ضد او غیر قانوني وسله والې ډلې فعالیت لري (Ali, March 17, 2017). طالبانو هم په فاریاب او هم سرپل ولایتونو کې د ځایي وګړو د جذبولو له لارې یوه پټه اداره او تشکیلات رامنځته کړي (هماغه سرچینه). د ۲۰۲۱ کال د جون پورې، د فاریاب ۴ ولسوالۍ د طالبانو تر کنټرول او پاتې نورې تر جګړې او سیالیو لاندې وې (Roggio, 2021). په ۲۰۲۰ کال، فاریاب له کابل او بلخ وروسته د ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړه کچه لرله (UNAMA, 2021).

**سمنګان** د بلخ په سوېل ختیځ کې پروت دی. له لوېدیځه په سرپل، له ختیځه په بغلان او له سوېله په بامیان پورې تړلی. کرهنه د هغو کلیوالي وګړو د ژوند اصلي سرچینه ده چې د ولایت له ۹۰ سلنو ډېر نفوس تشکیلوي. د خلکو ژوند او خوراکي امنیت د وچکالۍ، سېلابونو او د اوبو د کمښت پر وړاندې زیانمن دی. د ډبرو سکرو او د قهوه یي مرمر ډبرو د کانونو ایستل په دې ولایت کې د کار دوې نورې سرچینې ګڼل کېږي (German Coopera-tion, ND). سمنګان په ۲۰۱۹ کال د هغو اتو ولایتونو له ډلې ګڼل کېده چې په کې د څو اړخیزې بېوزلۍ کچه تر ۷۰ سلنو لوړه وه (NSIA,2019).

سمنگان د ټاکلیو پنځو ولایتونو له منځه، د جګړې تر ټولو کم شدت لري خو د ډېرو سکرو پر کانونو کنټرول لرل په دې ولایت کې د جګړې او تفرقې عوامل ګڼل شوي دي. د سمنګانو امنیت له ۲۰۱۶ کال راهیسې په پرله پسې توګه بدتر شوی (Ali, October 30, 2019). د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کالو ترمنځ ملکي مرګ ژوبله ـ تر ډېره د ځمکنیو ماینونو او هدفي وژنو په څېر پېچلو بریدونو له امله ـ تر ۱۹۶ سلنو پورې لوړه شوې (UNAMA, 2021). د راپورونو له مخې، د ۲۰۲۱ کال تر جون میاشتې پورې، د ۷ ولسوالیو له ډلې یوه ولسوالي د طالبانو تر کنټرول لاندې او پاتې نورې د جګړې او سیالیو په درشل کې دي (Roggio 2021).

### د سولې لپاره د بلخ غونډه: لنډه کتنه

۲۶ تنو ښځو او ۳۸ نرانو د سولې په لور د مزارشریف په غونډه کې ګډون درلودل. د غونډې پرمهال د سړکونو او لارو نسبي امنیت سبب شو چې له جوزجان، فاریاب، سرپل او سمنګان ولایتونو څخه هم ښځې په کې برخه واخلي.

په غونډه کې له ګډونوالو وغوښتل شول چې په خپلو ټولنو کې د جګړې پرعواملو اغېز لرونکي اصلي مسایل په ګوته کړي. ورپسې دغه مسایل په ګروپي بڼه تر غور او بحث لاندې ونیول شول. د ګډون کوونکو هر ګروپ د هرې ستونزې د لاملونو په موندلو او د دې خبرې په تشخیص کار وکړ چې دغه لاملونه څنګه کولای شي د تلپاتې سولې لپاره د شرایطو په برابرولوکې تر بحث لاندې ونیول شي.

ورپسې د ګروپي بحثونو پایلې څلور کسیز بورډ یا پنل ته وړاندې شوې. د بلخ پنل له دوو ښځو او دوو نرانو جوړ و چې په کې یوه اکاډمیک کس، یوه د بشري حقونو فعال، د والي د دفتر یوه استازي او د بلخ د ولایتي شورا یوه غړي ګډون درلود.

د غونډې بله برخه د سولې اړوند غوښتنو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او طالبانو ترمنځ د سولې د بالقوه تړون په اړه آزاد بحث ته ځانګړې شوې وه.

### د سولې اړوند غوښتنې

ګډون کوونکو د بحث په اوږدو کې تشریح کړل چې تمه لري د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه د وسله والو جګړو د پای ته رسېدو، با ثباته اقتصادي چاپېریال، لا ډېرو شغلي فرصتونو او د قانون د لا ډېرې واکمنۍ سبب شي.

په ورته حال کې، ګډونوالو د سولې له هوکړې سربېره د بېوزلۍ د کچې له لوړېدو، د لږ شمېر کسانو لاس ته د قدرت لوېدلو خطر، د قومي او ژبنیو ناندریو زیاتېدو او د غیر مسؤلو وسله والو ډلو له زیاتېدو څخه اندېښنه وښوده.

په ځانګړې توګه د ښځو ترمنځ بله مهمه اندېښنه له عمومي حوزې څخه د هغوی د شړل کېدو، لوړو زده کړو او کار ته له لاسرسي څخه بې برخې کېدو په اړه وه. په پای کې یو شمېر ګډونوالو د هغې سخت دریځ په اړه هم اندېښنه وښوده چې له خلکو مدني آزادۍ ـ لکه هنري او فرهنګي فعالیتونه او د بیان آزادي ـ اخلي.

د مدني ټولنې یو شمېر غړیو تشریح کړه چې د تلپاتې سولې ټینګښت او د ټولو لپاره ښه ژوند د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د راغلیو بنسټیزو حقونو په اړه قوي ژمنتوب، د لږکیو د حقونو ورکولو لپاره د روښانه ګامونو اوچتولو او د ولسواکو حکومتي جوړښتونو پلي کولو ته اړتیا لري. یو شمېر ګډونوالو یادونه وکړه چې د ملي قلمرو له متوازنې پراختیا څخه د ملاتړ موضوع ته چې په تېرو دوو لسیزو کې پرې سترګې پټې شوې وې، هم باید لا ډېره پاملرنه وشي.

### د جګړې سیمه ییز عوامل

د جګړې هغه څلور مهم محلي عوامل چې د بلخ غونډې ګډونوالو ورته اشاره وکړه، عبارت دي له:

- اداري فساد
- د محلي زورواکانو ترمنځ تنظیمي جګړې او اختلافونه
- د سیاسي څېرو له خوا د حساب نه ورکول، او
- د سرچینو نا عادلانه وېش.

**لومړی ستونزه: فساد**

ګډونوالو اداري فساد د سیاسي بې ثباتۍ یو له ټاکوونکو عواملو په ګوته کړ. هغوی تشریح کړه چې په دولتي ادارو کې خپل ګمارنه او فاسدې کړنې پر ملکي خدمتونو د خلکو د باور بایللو سبب شوي او د دولت مشروعیت ته یې زیان اړولی.

د ګروپ د غړیو عمومي لیدلوری دا و چې د دولتي پستونو او مقامونو نیول تر ډېره د بډو یا رشوت اخیستلو او ځمکو غضبولو له لارې د پانګې ټولولو د یوې ستراتیژۍ په توګه کارول شوي نه خلکو ته د خدمتونو ترسره کولو لپاره.

د ګروپ غړیو تایید کړه چې له فساد سره د مبارزې د لارو چارو پیاوړي کولو او د مالیاتو له تېښتې څخه د مخنیوي لپاره، تشکیلاتي اصلاحاتو ته اړتیا ده. دغه راز غوښتنه وشوه چې د دولتي کسانو د شتمنۍ ثبتولو په ګډون روان تدابیر پیاوړي شي.

بل وړاندیز دا و چې د دولتي چارواکو او خلکو ترمنځ شخصي اړیکې د اداري کړنلارو د ډیجیټلي کولو له لارې محدودې شي او له دې لارې د بډو غوښتنې فرصتونه کم شي. له دې سره، د خلکو ترمنځ د ډیجیټلي سواد نه شتون او ډیجیټلي رسنیو ته لږ لاسرسی، تر بحث لاندې ونه نیول شول.




انځور/IAPPRO ،MADPO ،FES

**دویمه ستونزه: د محلي زورواکانو ترمنځ تنظیمي شخړې**

یوه ګروپ په سیمه ییزو ټولنو کې د جګړې د یوه عامل په توګه د سیاست تنظیمي کولو پر موضوع تمرکز وکړ. هغوی تشریح کړه چې سیاسي ګوندونه د ټولنیزو مسایلو د هوارولو په اړه د یوې سیاسي اجنډا یا د نظریاتو د توافق پر محور نه سره راټولېږي بلکې تر ډېره د داسې سیالو ډلو په څېر عمل کوي چې د قومي پولو په وسیله سره جلا شوې او یا هم په یوه نفوذ لرونکي کس پورې تړاو لري.

په مزار شریف کې، هغه سیاسي شخړې د ولس لپاره د اندېښنو ستره سرچینه ګڼل کېږي چې په زورواکانو پورې تړلو ډلو ټپلو ترمنځ د اخ او ډب سبب کېږي. د بلخ له مرکز څخه د باندې، جګړې او شخړې د محلي قدرتمندانو ترمنځ د سیالیو په پایله کې لا شدت مومي. دغه ټکی د فاریاب، جوزجان او سرپل په اړه هم رښتینی دی.

ګډون کوونکو د دغو مسایلو د هوارولو په اړه د دولت د ظرفیت په اړه ناهیلي وښوده او یادونه یې وکړه چې دولتي استازي خپله هم ډېرکله په دغو سیمه ییزو شخړو او سیالیو کې ښکېل دي.

د هغوی په اند، د سیاسي ډلو ترمنځ د عمومي مصلحت پر ځای خپلو شخصي ګټو ته لومړیتوب ورکول، په محلي سیاسي تشکیلاتو کې له ناسم استازیتوب سره نیږدې اړیکې لري. یوه ګډون کوونکي یادونه وکړه:

*موږ باید [سیاسي] کار خلکو ته وسپارو. مطلب مې دا دی چې دولتي چارواکي باید د وړتیا له مخې وګمارل شي او مقام یا پست ته لاسرسی باید د ټاکنو له لارې وي. والیان او ریيسان په کابل کې ټاکل کېږي. که زموږ غوښتنه دا وي چې دوی د ولس غم وخوري، نو باید خپله د ولس له خوا وټاکل شي ـ ۱ شمېره ښځینه ګډونواله، مدني ټولنه*

یوه بل ګډونوال یادونه وکړه چې په ځواب ویلو او مسؤلیت منلو د استازیتوب اړول، د ډیموکراتیکو بنسټونو د فعالیت په اړه د خلکو د پوهاوي کچې لوړېدو ته اړتیا لري، ترڅو وکولای شي له خپلو استازو څخه روښانه پروګرامونه وغواړي او خپلې رایې پر دې بنسټ صندوقونو ته واچوي چې د هغوی پروګرامونه د دوی له

اړتیاوو سره څومره سمون لري.

## دریمه ستونزه: د سیاسي څېرو له خوا حساب نه ورکول

ګډونوالو د سیاسي څېرو او نخبه ګانو له خوا د حساب نه ورکولو موضوع هم یاده کړه او له ملي سطحې نیولې تر ولایتي او محلي سطحې پورې یې د دولت په ټولو برخو کې د سیاسي نظام د تشکیلاتي سمون غوښتنه وکړه.

د ګروپ استازي تشریح کړه چې د قانون واکمني په یو شان نه پلې کېږي او ډېر لږ احتمال شته چې له قدرت مندو کسانو څخه د هغوی د اعمالو په تړاو حساب وغوښتل شي.

د ګروپ بل غړي یادونه وکړه چې د واکمنو نخبه ګانو حساب نه ورکول د یوه سیاسي ماډل په وسیله پیاوړی شوی کوم چې په کې قدرت په اجرائیه قوه کې تمرکز مومي او د قواوو ترمنځ د توازن په رامنځ ته کولو کې د قضایي بنسټونو وړتیا، را کموي.

د حساب ورکونې اړوند مسایلو په اړه وړاندې شویو حل لارو کې له تشکیلاتي اصلاحاتو پرته، لاندې ټکي شامل دي: د کمپاینونو په لاره اچولو او له قدرت څخه د ناوړه ګټې غندلو له لارې د ټولیزو رسنیو د کارونې په وسیله د مدني ټولنې او ولس لا ډېر ګډون.



انځور/ FES، MADPO، IAPPRO

ګډونوالو یو ځل بیا د ټولنې په کچه د هر اړخیزې سلا مشورې فرهنګ د پیاوړي کولو پر اړتیا ټینګار وکړ. ولیدل شول چې ښځې او ځوانان تر ډېره د پرېکړه کولو له پروسې څنډې ته کېږي؛ دغه مسئله د کورنیو له داخل څخه پیل او وروسته ګډونو، ټولنو او د لوړې کچې حکومتي بنسټونو ته لاره کوي. د مثال په توګه:

*له بده مرغه موږ نن ورځ په یوه نرواکه ټولنه کې ژوند کوو. د کورنۍ اکثریت سرپرست نارینه مهم موضوعات له خپلو ښځو سره نه شریکوي. [...] که زه خپلې ښځې ته مساوي حقوق ورنه کړم، د خپلو اولادونو او ورونو لیدلوري په پام کې ونه نیسم، هېڅکله به ونه شم کولای مفاهمه په داسې بڼه ترسره کړم چې رغنده او د ټولو لپاره ګټوره وي. خو د دې تمه لرم چې تلپاتې سوله راشي او دغه سوله باید زموږ د کورنیو، کلیو او سړکونو له داخل څخه پیل شي. ۱ شمېره نارینه ګډونوال، مدني ټولنه*

د ګروپ غړیو زیاته کړه چې د ملي او ولایتي پالیسیو په جوړولو او پلي کولو کې باید هغو قومي او ژبنیو لږکیو ته ډېر پام وشي چې لږ استازیتوب یې شوی. هغوی باید په سیاسي پرېکړو کې له خپل ګډون څخه د ملاتړ لپاره له ځانګړو اقداماتو څخه زیاته ګټه پورته کړي.

## څلورمه ستونزه: د سرچینو نا عادلانه وېش

په محلي کچه د سولې څلورم ګواښوونکی عامل دا و چې زیربنایي پروژې د مخورو کسانو د یوې کوچنۍ کړۍ د ګټو لپاره پلې شوې نه د عمومي مصلحت لپاره.

*له دې امله چې زموږ اصلي موخه تلپاتې سولې ته رسېدنه ده، نو باید ډاډ ترلاسه کړو چې سرچینې او په ځانګړې توګه زیربنایي پروژې او عامه تأسیسات په متوازنه بڼه وېشل کېږي. تلپاتې سوله د قدرت او شتمنیو له عادلانه وېش پرته شونې نه ده، ځکه دا هغه څه دي چې ګټه یې مخامخ خلکو ته رسېږي. [...] سوله خلکو ته د هوساینې او ښه ژوند له چمتو کولو پرته ناشونې ده - ۲ شمېره نارینه ګډونوال، مدني ټولنه.*

د ګروپ غړیو د زیربنایي پروژو په پلانولو، څارنې او پلي کولو کې د ولایتي پراختیایي شوراګانو په ګډون د محلي حکومت د لا ډېرو تشکیلاتو د ګډون غوښتنه وکړه.

هغوی ټینګار وکړ چې پرېکړې باید په محلي کچه د اړتیاوو له سنجولو وروسته وشي ترڅو د خلکو ترمنځ د ناسم پوهاوي له رامنځ ته کېدو مخنیوی وشي او ورسره څنګ کې له محلي ټولنو سره اړینې سلا مشورې ترسره شي.

د ملي شورا وکیلان د هغو مهمو عواملو په نوملړ کې راغلل چې دنده لري په ملي کچه د خپلو ټاکنیزو حوزو له حقونو څخه دفاع وکړي، د خپلو فعالیتونو او ننګونو راپور ولس ته ورکړي.

رسنۍ هم د هغه بل مهم عامل په توګه مطرح شوې چې کولای شي د پراختیایي او زیربنایي پروژو اړوند روڼتیا او شفافیت په چمتو کولو کې ستر رول ولوبوي.

په پای کې، مدني ټولنه د یوه داسې مهم شکېل لوري په توګه په پام کې ونیول شوه چې د پروژو پر پلي کېدلو د څارنې له لارې باید د پارلمان او ولایتي شورا له وکیلانو څخه حساب وغواړي او له قانون څخه د سرغړونو د موندلو پرمهال، د هغوی پر وړاندې دعوا ثبت کړي. یوه ګډونوال یادونه وکړه چې د عامه دعوا ثبتول په خپلو مسؤلیتونو د دولت پوهولو او د قانوني مکلفیتونو ترسره کولو ته د اړ ایستلو یوه لاره ده.



انځور/FES، MADPO، IAPPRO

**پایله**

**د بلخ له غونډې څخه څلور اصلي پایلې ترلاسه شوې.**

لومړی ټکی د حکومتي اوسني جوړښت په وړاندې د برخه اخیستونکو نارضایتي او د ښاریانو اساسي اندیښنو ته د رسیدو لپاره د دوی وړتیا ده. د خلکو له حقونو څخه د ملاتړ په اړه د اساسي قانون او نورو قوانینو احکام او د تشکیلاتي نیمګړتیاوو پوره کولو لپاره ډیزاین شوي تدابیر، یوازې د کاغذ پرمخ دي او عملي کېږي نه. د ګډونوالو په اند، سیاسي ځېرې او مخور کسان د خپلو ګټو په چوپړ کې دي او له خلکو لرې پاتې دي. دغه راز ډیموکراتیک بنسټونه له اړین مؤثریت څخه برخمن نه دي.

دویم، د هغو بحثونو په لړ کې چې د پورته څلورو مسایلو په اړه وشول، د ګډون کوونکو اصلي اندېښنه د غوره حکومتوالۍ په اړه وه. دغه اندېښنه هم له ولس څخه د عادلانه استازیتوب له اړخه وه، هم د دولت د حساب ورکولو، د عمومي مصلحتونو په تړاو د مسؤلیت منلو او هم د دولتي چارواکو د شفافیت او صداقت له اړخه.

دریم، د بحث بله موضوع د ولس ترمنځ د اقتصادي هوساینې او شتمنیو د وېش لپاره د مناسبو شرایطو چمتو کولو اهمیت و. سرچینو ته نا برابر لاسرسی د شخړو او جرایمو لامل او ولس ته د خدمتونو په وړاندې کولو کې د دولت پر وړتیا د باور بایللو سبب ګڼل شوی دي.

په پای کې دا چې د وروستیو دوو لسیزو په اوږدو کې د دولتي ادارو د اغېزمنتوب او مؤثریت په اړه د ناهیلیو له څرګندولو سربېره، د غونډې یوه ستره پایله دا وه چې خلک د دولت د لا ډېر حضور غوښتنه کوي نه کم. د هغوی د غوښتنو په محراق کې د یوه داسې مقتدر او لږ متمرکز دولت تشکیلېدل ځای لري چې ولس ته ځواب ویونکي وي، ټولو ته یو شان خدمتونه وړاندې کړي او په پراختیایي او زیربنایي پروژو کې مخامخ ګډون ولري، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د مالیې ورکړه جبري وي.

### تصديق

د پوښتنې انځور د محمد عارف کريمي له خوا اخيستل شوی.

### قانوني يادونه او د مسؤليت نه منل

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثـر هېـڅ يـوه برخـه لـه APPRO (www.appro.org.af) موسسـې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخـه لـه ليکلـې اجـازې پرتـه، د بيا توليـد او د بيا موندلـو پـه سيسـتم کـې د زېرمـه کولـو ورتيـا نـه لـري او اجـازه نـه شـته چې پـه هره بڼـه يـا د هـرې وسـيلې پـه کارولـو سره بـل ځـای تـه ولېـږدول شي.

## سرچینې:


Ali, Obaid (2019). Afghanistan's 2019 Election (22): Glances at Kunduz, Baghlan, Samangan. Afghanistan Analysts Network (AAN). 30 October 30. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/political-landscape/afghanistans-2019-election-22-glances-at-kunduz-baghlan-samangan/

Ali, Obaid (2018). Qari Hekmat's Island Overrun: Taleban Defeat 'ISKP' in Jawzjan. Afghanistan Analysts Network (AAN). 4 August. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/qari-hekmats-island-overrun-taleban-defeat-iskp-in-jawzjan/

Ali, Obaid (2017). Non-Pashtun Taleban of the North (2): Case studies of Uzbek Taleban in Faryab and Sar-e Pul. Afghanistan Analysts Network (AAN). 17 March 17. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/non-pashtun-taleban-of-the-north-2-case-studies-of-uzbek-taleban-in-faryab-and-sar-e-pul/

Fishstein, Paul, Islamuddin Amaki, and Mohammed Qaasim (2013). Balkh's Economy in Transition. Afghanistan Research and Evaluation Unit. August 2013. Available at: https://tile.loc.gov/storage-services/service/gdc/gdcovop/2013359521/2013359521.pdf

German Cooperation in Afghanistan (EZ). Samangan. Available at: https://www.ez-afghanistan.de/en/samangan

International Federation of the Red Cross (2020). Emergency Plan of Action Operation Update. Afghanistan: Drought and Flash Floods. June 12.

International Federation of the Red Cross (2020). Emergency Plan of Action Operation. Afghanistan: Drought. March 19, 2020.

International Organization for Migration (2021a). BMA R10 - Afghanistan — Balkh Baseline Mobility Assessment Summary Results (January—June 2020). 6 April. Available at: https://migration.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-balkh-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june-2020

International Organization for Migration (2021b). BMA R10 - Afghanistan — Jawzjan Baseline Mobility Assessment Summary Results (January—June 2020). 6 April. Available at: https://dtm.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-jawzjan-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

International Organization for Migration (2021c). BMA R10 - Afghanistan — Faryab Baseline Mobility Assessment Summary Results (January—June 2020). 6 April. Available at: https://dtm.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-faryab-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

International Organization for Migration (2021d). BMA R10 - Afghanistan — Sar-E-Pul Baseline Mobility Assessment Summary Results (January—June 2020). 6 April. Available at: https://displacement.iom.int/reports/bma-r10-—-afghanistan-—-sar-e-pul-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

International Organization for Migration (2021e). BMA R10 - Afghanistan — Samangan Baseline Mobility Assessment Summary Results (January—June 2020). 6 April. Available at: https://dtm.iom.int/reports/

bma-r10-—-afghanistan-—-samangan-baseline-mobility-assessment-summary-results-january—june

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (2019). Afghanistan Multidimensional Poverty Index 2016-2017: Report and Analysis. Available at: https://www.mppn.org/wp-content/uploads/2019/03/AFG_2019_vs9_online.pdf

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (2021). Afghanistan Statistical Yearbook 2020. Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Mielke, Katja, and Nick Miszak (2017). Making sense of Daesh in Afghanistan: A social movement perspective. Bonn International Center for Conversion (BICC) and The Liaison Office (TLO): Working Paper 6. Available at: https://www.bicc.de/uploads/tx_bicctools/BICC_Working_Paper_6_2017.pdf

Pajhwok Afghan News (2019). Jawzjan Background Profile. Available at: http://vote.af/en/content/jawzjan-background-profile

Habib, Qadir, Ron Synovitz, Frud Bezhan, and Michael Scollon. Afghanistan's New Northern Flash Points (n.d.). Radio Free Europe/ Radio Liberty. Available at: https://www.rferl.org/a/27013992.html#6

Roggio, Bill (2021). Mapping Taliban Contested and Controlled Districts in Afghanistan. Long War Journal (LWJ). Available at: https://www.longwarjournal.org/mapping-taliban-control-in-afghanistan

Tolonews (2019). Sar-e-Pul Oil Reservoirs Under Taliban Threat: Officials. 3 January. Available at: https://tolonews.com/afghanistan/sar-e-pul-oil-reservoirs-under-taliban-threat-officials

United Nations Assistance Mission in Afghanistan, and United Nations Human Rights Office of the High Commissioner (2021). Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict. Annual Report 2020. February 2021. Kabul, Afghanistan.

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2020). UNOCHA, Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (24 February – 1 March 2020). March 4, 2020. Available at: https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan-humanitarian_weekly_1_march.pdf

United Nations - Secretary General. (2020). The Situation in Afghanistan and its Implications for International Peace and Security. A/74/753-S/2020/210. 17 March. Available at: https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/s_2020_210.pdf

__________________ (2020). The Situation in Afghanistan and its Implications for International Peace and Security. A/75/634-S/2020/1182. 9 December. Available at: https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/A_75_634_E.pdf

__________________ (2021). The Situation in Afghanistan and its Implications for International Peace and Security. A/75/811-S/2020/252. 12 March. Available at: https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/S_2021_252_E.pdf